بسم الله الرحمن الرحیم

# که نن وي که سبا د اردوغان دوه مخیتوب به ووینو!

## خبر

د ۲۰۲۰ د اکتوبر په ۱۹مه، ولسمشر اردوغان د ابن هالډون طبي پوهنتون د پرانیستغونډې پر مهال په خپلو خبرو کې وویل: «غربي نړۍ باید په بېلابېلو برخو کې زموږ له اساساتو پیروي وکړي. خو موږ برعکس خپل اساسات یا هېر کړي او یا مو هم ګټه نه ده ترې اخیستې. دغه راز موږ دوې سلیزې هڅې کوو، چې له دغو ستونزو ځانونه راوباسو. یا په بله معنا؛ موږ له فکري بحرانونو سره لاس او ګرېوان یو. دا فکري ازادي ده چې په دواړو هم په اقتصادي او هم په سیاسي ازادیو کې یې د درواغو موجودیت ثابتوي.»

## تبصره

کله چې د ولسمشر اردوغان خبرې په اخبار کې خپرې شوې، فرانسې له دې مخکې رسول الله صلی الله علیه وسلم او اسلامي ارزښتونو ته سپکاوی کړی وو. دوی پرېکړه وکړه، چې په دولتي ودانیو به د هغه فرانسوي انځورونه لګوي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې سپکاوی کړی و. د ۲۰۲۰م، د اکتوبر په ۲۰مه ولسمشر اردوغان د میلاد النبي صلی الله علیه وسلم د پیدایښت د مراسمو هفتې په پیل کې، دوی ته په ځواب کې وویل: «زه په خپلو خلکو له دې ځایه غږ کوم، چې د فرانسې له خوا تولید شوي توکي مه اخلئ، مه د فرانسې تولیدات تاییدوئ او مه یې اخلئ.» همدارنګه اردوغان د اکتوبر په ۲۹ مه په انقره کې په خپلو خبرو کې وویل: «اې د اتاترک لویه قومه! موږ یو ځل بیا په دغه ځانګړې ورځ ستاسو په مخ کې درېږو، کومه ورځ چې موږ په ۹۷مه کالیزه باندې د خپل جمهوریت لپاره خوشحالي کوله، موږ په ټوله کې هڅې کوو چې خپل جمهوریت لاسته راوړو تاسو موږ ته دغه مسوولیت راسپارلی، څو دغه اهداف او خوبونه په حقیقت بدل کړو.

اوس ماته اجازه راکړئ چې د دغو دریو خبرو تر منځ تناقض  درته وښیم. ځکه ټول د اسلامي خاورو د چارواکو دوه مخي ویني او د ولسمشر اردوغان دوه مخي به هم په نیږدې راتلونکې کې په ډاګه شي او وبه یې وینو.

فرانسه (د کافر غرب او سیکولرېزم زانګو) اوسمهال د اسلام او مسلمانانو د سپکاوي او پرې د بې ځایه تور لګولو په میدان بدله شوې ده. رسول الله صلی الله علیه وسلم او اسلامي ارزښتونو ته سپکاوی د دوی ازادي ده، چې

ډيموکراسۍ او سېکولاريزم دوی ته ورکړې ده. دوی وايي ډيموکراسۍ موږ ته حق راکړی چې اسلام، قران او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته سپکاوی وکړو او له دغه کار څخه ملاتړ هم کوي. ولسمشر اردغان د عدالت او پرمختګ ګوند د مشر په حيث چې ۱۸کلونه په ترکيه کې حاکم او په قدرت کې دی، خو بيا هم سل کاله کېږي، چې ډيموکراسي او سېکولرېزم يې منلي دي. کله چې وخت ورته برابر شي نو د ډيموکراتيکو او سېکولر ارزښتونو صفت او ستاينه هم کوي او همدارنګه نوموړي وويل: «موږ له فکري بحران(انحطاط) سره لاس او ګرېوان يو.» وروسته بيا د شارلي عبدو مجلې د اردوغان کارتونونه هم چاپ او خپاره کړل بيا نوموړي وويل: «هغه زه يم زه اړتيا نه لرم چې دغو شرمېدلو خلکو ته څه ووايم، چې دوی زموږ ګران پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته سپکاوی کوي.» همدارنګه نوموړي مسلمانان منع کړل او د هغو لاريون کوونکو مخه يې هم ونيوله، چې غوښتل يې د فرانسې سفارت ته ځانونه ورسوي. نوموړي فرانسوي توليدات منع کړل، خو د دې تر څنګ يې فرانسوي کمپنيو ته اجازه ورکړه، چې په ترکيه کې فعاليت وکړي. فرانسې يې خپل سفير له ترکيې څخه راوغوښت، خو ترکيې وويل؛ دا په دې معنا نه ده چې زموږ سفير دې هم بېرته هېواد ته راشي.

اردوغان وويل؛ موږ له فکري بحران (انحطاط) سره لاس او ګرېوان يو، خو نوموړی په دغه خبره کې رښتينی نه دی، ځکه که دی د زړه له تله دغه خبره کوي، نو بايد له دغه بحران څخه د وتلو لاره ولټوي.خو برعکس له دغو ټولو کړنو وروسته، د اکتوبر په ۲۹مه نوموړي هغو بتانو ته درناوی وکړ، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يو يو په مکه مکرمه کې مات او له منځه يوړل. دغه راز نوموړي يو ځل بيا د ډيموکراسۍ، سېکولرېزم او جمهوريت ستاينه کوله، تاسو دواړه مقدس ګڼئ هم سېکولرېزم او ډموکراسي او هم غواړئ چې له فکري انحطاط څخه ځانونه خلاص کړئ. خو خلاف خبره دا ده چې که چېرته تاسو ريښتيني ياست، نو تاسو خو د نړۍ په مختلفو برخو يعنې اسلامي خاورو ان غرب کې هم د مسلمانانو لاريونونه د فرانسې پر وړاندې ليدل بايد دغه لاريونونه مو رهبري کړي وای. تاسو څه کړي دي؟ تاسو سمدلاسه په ازمير کې له زلزلې وروسته د ماکرون د څو خبرو لپاره له هغوی څخه مننه وکړه او خواخوږي مو ورسره وکړه. دغه ټول موارد ښيي چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په مينه او د فکري انحطاط په اړه خبرو کې رښتيني نه ياست. ستاسو دغه ټولې څرګندونې د چوکۍ ساتلو او ټاکنو ګټلو لپاره دي. که نيږدې وي که وروسته، نو مسلمانان او اسلامي امت به ستا اصلي څېره وګوري. د تا تګلاره هم د کمال عبدالناصر او انور سادات په شان منحرفه ده.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**ليکوال: مهموت**

**د حزب التحرير د ولايه ترکيې د مطبوعاتي دفتر مشر**

۱۴۴۲هـ.ق، د ربیع الاول ۱

۲۰۲۰م، د نومبر ۷مه